د حزب التحرير
ولايه افغانستان
مطبوعاتي دفتر

بسم الله الرحمن الرحيم

﴿وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَىٰ لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا ۚ يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا ۚ وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ﴾

سه شنبه ۱۷ جمادي الثاني، ۲۰۲۰/۰۲/۱۱م گڼه: ح.ت.افغ ۱۴۴۱/۰۷

مطبوعاتي اعلاميه

# له امريکا څخه د صداقت تمه له اور څخه د سړو هيلې ته ورته ده

طالبانو په هغه ليکنه کې چې د هغوی رسمي نظر ښکاره کوي، ويلي وو چې هغوی د سولې د مذاکراتو په بهير کې خپل ټول مسؤليتونه ترسره کړي دي، خو امريکا د «نوو غوښتنو، نيوکو او بهانو» له لارې خبرې اترې اوږدوي. له دې وړاندې هم د دغه ډلې وياند د امريکا د بهرنيو چارو د وزير د څرګندونو په اړه ويلي و: «پمپئو دې د خپل بام واورې زموږ بام ته نه راغورځوي.»

د حزب التحرير-ولايه افغانستان مطبوعاتي دفتر د سولې د پروسې د اوږدېدو په اړه د لاندې ټکو يادول مهم او اړين بولي:

**لومړی:** امريکا هڅه کوي ترڅو د سولې هوکړه ليک د بېلابېلو بهانو له لارې يوه مناسب فرصت ته برابر کړي، ترڅو د ټرمپ ټيم د هغه له لاسليک کولو د امريکا په ټاکنو کې د يوې لويې تبليغاتي هڅې په توګه ګټه واخلي. لکه څنګه چې ټرمپ د ابوبکر البغدادي او قاسم سليماني له وژلو او د پېړۍ له معاملې څخه په راتلونکو ټاکنو کې د عامه افکارو د ملاتړ د جذبولو لپاره په تبليغاتي ډول وکارول.

**دويم:** امريکا او طالبان دواړه د سولې د هوکړه ليک په اړه بېلابېل ليدلوري لري. مسلمانان تړون او تړون ته ژمنتيا يو مهم اسلامي ارزښت بولي، له همدې امله طالبان د واقعي هوکړه ليک او مصالحې په فکر کې دي. مګر امريکا تړون او هوکړه ليک ته د چانس او غولولو په سترګه ګوري او د امريکا سياست په ځانګړي ډول له دولتونو او ډلو سره د خبرو اترو پر مهال د غولولو، نه ژمنتيا او تړون ماتولو پر بنسټ ولاړ دی. په داسې سياست کې صداقت او تړون ته ژمنتيا هېڅ معنی نه لري. څکه امريکا په نړۍ کې د تر ټولو ستر تړون ماتوونکي هېواد لقب خپل کړی دی. د امريکا وروستيو دريځونو او د سولې د خبرو اترو د پرمختګ څرنګوالي ته په کتو دا جوتېږي چې امريکا په افغانستان کې د واقعي سولې غوښتونکې نه ده، بلکې د طالبانو د حرکت پر وړاندې توطيه او دسيسه کوي.

**درېيم:** د سولې خبرې اترې د سياسي تاکتيک په توګه لنډمهالې وي. څکه امريکا د هغو له لارې غواړي د ځان لپاره وخت و پلوري، ترڅو په افغانستان کې خپله ماتې پټه کړي. امريکا په دې ښه پوهيږي چې د جګړې په ډګر کې د طالبانو صبر او استقامت د هغوی په ضرر تمامېږي. له همدې امله امريکا طالبان د سياست، ديپلوماسۍ او مذاکراتو هغه ميدان ته ور وستلي دي چې خپله ورباندې بريالۍ او تر ولکې لاندې يې دی او په خپله خوښه کله مذاکرات «مړه» اعلانوي او کله د مذاکراتو مېز ته راګرځي او د اوربند شرط ږدي.

**څلورم:** طالبان بايد پر امريکا باندې د باور او د سولې د خبرو اترو د پرمخ بېولو پرځای، ژر تر ژره مذاکرات ودروي او له هغې څخه بهر شي او پرځای به يې د امريکايي اشغال پر وړاندې په عملي ميدان کې د مبارزې دوام او صبر د هغوی برياليتوب تضمين کړي؛ او دا يوازينی ميدان دی چې امريکا پر هغه نشي بريالۍ کېدلای. څکه په سيمه او نړۍ کې ګڼ داسې شواهد تر سترګو کيږي چې امريکا د افغانستان په سياسي، اقتصادي او نظامي ډګرونو کې ماتې خوړلې. نو طالبان بايد د سولې په دروغجنه پروسه کې د امريکا پر ديپلوماسۍ ونه غولېږي، بلکې بايد د اشغال پر وړاندې خپلې مبارزې ته دوام ورکړي.

**د حزب‌التحرير - ولايه افغانستان مطبوعاتي دفتر**